مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ولي الله ملکزی
۲۰۲۰/۰۳/۲۲

# نا لیدلی کرونا او د ځواکمنو بی وسي!

نژدی سل ورځي وړاندی، د کرونا په نوم یو نا لیدلي، چالاکه او بی رحمه دښمن، د چین په ووهان کي سر را پورته کړ. د همالیا له دنګو څوکو را واوښت او توري افریقا ته یی پرته له کومي دمي سر ورښکاره کړ. خو هلته هم تم نشو، د رومن امپراطوری جارغالی (ایټالیا) یي سخت وځپلو، د غرناطي، قرطبي او مدرید کوڅي یی تر شا خالي پریښودې او د اقیانوس د پراخه سمندر د پاسه یی ځان د امریکا پخو مورچلو ته ورسولو. زه (ملکزی) ډاکټر نه یم چي د دی تور ښامار د درمل او مخنیوي په باره کي څه ووایم. ځینی خلک دی شیشکي بلا ته د کرونا وایرس وایي، څه یي وبا، طاعون او حتی بیالوژیکي وسله بولي او څوک ورته د الهي عذاب په سترګه ګوري. همدارنګه زه دیني عالم هم نه یم چي د فیسبوکي مفتیانو په شان د جوماتونو د موقت بندیز په اړه د شرعیت له مخي خپل نظر شریک کړم، ځکه د مرحوم مجددي خبره چي ( نیم حکیم خطره جان، نیمچه ملا خطره ایمان).
خو د تاریخ د ځانګي د یو شاګرد په توګه دومره پوهیږم چي دا لمړی ځل ندی چي په بیت الله کي د جماعت لمونځونه په موقت ډول بندیږي. مکي حرم په ۹۳۰ میلادي کال کي د قرامطه شیعه ګانو لخوا د څو کالو لپاره بند شو، د کعبي دروازه او حجر اسود یي غلا کړل او د قطیف سیمي ته یي له ځانه سره یوړل چي بیا عباسیانو د ۱۲۰ زره طلایي دینارو په بدل کی شل کاله وروسته بیرته تر لاسه کړل. په ۱۸۱۴ م کال کي د طاعون له امله د حرم دروازي بندي او پدغه کال د حج فریضه ترسره نه شوه. په ۱۹۷۹م کال کي د کعبي په حرم باندی د جهمیان العتیبي لخوا خونړی برید وشو چي په پایله کي بیت الله د پوره دوو اونیو لپاره د هر ډول عبادت او زیارت لپاره تړل شوی وو.
ولی په ټینګه پدی باور یم چي بوړنونکي کرونا د ظالمو او متعصبو انسانانو په څیر نده، بلکي د هر دین، مذهب، رنګ، نسل، ژبي او هیواد له وګړو سره یو ډول چلند کوي. د کرونا په نوم دغه پټ دښمن درواغ نه وایي، خو موږ انسانان سخت درواغجن یو. کرونا ډاکي نه اچوي، خو موږ په رڼا ورځ د مظلومو او بی کسو هیواد والو مالونه چور کوو. کرونا د کال په لمړی ورځ پخپلو ملګرو ډزي نه کوي، خو موږ د خپلو همسنګرانو سینو ته شپیلی نیسو. کرونا په سلو کي دری یا څلور تنه وژني او تر ډیره ځایه په ماشومانو چندان غرض نکوي، خو موږ وچ او لامده یوځای سوځوو.
کرونا په نسبي توګه په ښځو څه ناڅه پام کوي، خو موږ د خپلو لونو او خویندو په ښکلو مخونو تیزاب شیندو، تعلیم ته یی نه پریږدو او له خپلو مشروعو او مدني حقوقو څخه یی محروموو. کرونا د خپل او پردي ترمنځ توپیر نه کوي، خو موږ متعصب یو، تنګ نظري او پردي پالي. کرونا چاپیریال سوتره کوي او خلک اړ باسي چي بیا بیا په تودو اوبو او صابون لاسونه ومینځي، مګر موږ د چاپیریال ککړتیا ته بدي وهلي او د خپلو وطنوالو جسدونه سوځوو.
بلی، کرونا د دي نړیوال کلي د اوو ملیاردو انسانانو په وړاندی داسی یو ستر ناورین رامنځ ته کړ چي د ځواکمنو هیوادونو له مشرانو یی لاره ورکه کړي او د مقابلي لپاره یي د وسلي او وسیلي له تابیا څخه چورلټه عاجز ښکاري. پخوا به استعماري دولتونو له خپلو سیالانو څخه د تباه کونکو وسلو او نوي ټکنالوژی خبرونه پټ ساتل، خو کرونا نن دغه رقیبان یو بل ته نژدی کړل او د واکسینو د جوړولو لپاره مرستي او یو بل ته زاری کوي.
د روغتیایی سونامي ترڅنګ د نړی سیاسي پنډتان بیش بیني کوي چي د لویدیځي نړی دا اوسنی سیستم د پیکه کیدو او په نړیوال ستیج د کمونست چین د لازیاتي ځواکمنی په لور روان دی، هلته چي ګوندي سانسور د فردي خپلواکی ځای نیسي. د چین اقتصادي وده د اتو او دولسو فیصدو ترمنځ ده، پداسی حال کي چي د غربي نړی د پرمختللو هیوادونو وده له پنځه سلني کمه ده. همدا پرون ایټالیا ته د کرونا د مقابلي لپاره د چینایي ډاکټرانو استوول، د نوي نظام او چین د اعتماد څرګنده نښنه ده.
پریماني ټکنالوژی او اقتصادي لاړچونو د کورنیو د غړو ورځنی ژوند د انزوا خوا ته وړی وو، خو د کرونا له وجي د شریک ژوند د تیرولو اړتیا بیا احساس شوه. خوري وري کورنی، مودي مودي وروسته یو ځل بیا یو نغري ته راتاو او حجرې او دیرې بیا ډکي شوې. په پرمختللي نړی کی کارونه له دفترونو څخه کورونو ته راغلل، خلکو کتابونو او مطالعي ته مخه کړه او کورني ژوند، نوی رنګ وموند. د سلام ځای نمستی ونیو، ترڅو خلک یو بل ته لاس ورنکړي او د غوا میتازي د ځینو په باور شفا وګڼل شوه؟؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

خو موږ د يو مؤمن امت په توګه بايد چې لمړی اسباب په کار واچوو او بيا د کائناتو په ستر خالق تکيه او توکل وکړو. رب العالمين، حضرت مريم ته امر کوي چې: د خرما د ونې ستڼه وښوروه چې تازه او خوږې خرما دې په څولۍ کې راولويږي. حضرت پيغمبر خپل صحابی ته امر کوي چې لمړی دی د اوښې ګونډه وتړه او بيا پر الله توکل وکړه. د طاعون په مرض اخته خلکو ته توصيه کوي چې پخپلو کورونو کې پاتې شي، په عين حال کې صحتمندو ته مشوره ورکوي چې د ناروغو خلکو کورونو او بازارونو ته ورنشي. ځکه محمد صلی الله عليه السلام خپل امت ته د دی تلقين ورکولو چې په تقدير ايمان زموږ د ايمان بنسټ دی او د تدبير نيول، زموږ د ژوند کړنلاره.

د نيوزويک مشهورې مجلې تيره اونۍ د ډاکټر کريګ کانسايډن په يوه څېړنيزه مقاله کې وليکل چې: د اسلام پيغمبر محمد (ص) ۱۴ پيړۍ وړاندی د روغتيايي کلابندۍ، نظافت او د وبا په مهال د نه سفر کولو توصيه کړې وه، چې رښتيا هم ډيره دقيقه او د طبی لحاظه ګټوره وه. نو اوس بايد د هر ډول ګڼې ګوڼې څخه ځانونه لرې وساتو، د هغو مفتيانو په مشورو او فتواګانو عمل وکړو، چې په رښتيني ډول د دين په روح او هدف خبر وي. په زيارتونو کې د کرونا علاج نشته، بلکې د الله تعالی ذات ته په اخلاص دعا او احتياط کولو سره ممکن دی.

هيڅ څوک نه پوهيږي چې د کرونا دا بوړنونکی آفت به کله مهار شي او څومره انسانان به د مرګ او درد کومي ته وسپاري؟ خو يوه خبره همدا اوس جوته بريښي چې په نړيوال سياسي او اقتصادي نظام کې لوی بدلون را روان دی. کوم پړاو چې له کرونا وروسته راځي، هغه به لدی مرحلې سره بلکل بدل وي ځکه چې د تل لپاره د بی وسو تاريخ، د فاتحينو لخوا ليکل کيږي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ